**بسم الله الرحمن الرحیم**

**روژه د ګناهونو کفاره ده**

**(ژباړه)**

له حذیفه رضـی الله عنه څخه روایت دی چې عمر رضـی الله عنه وویل: آیا څوک شـته چې د فتنې په اړه د رسـول الله صـلی الله علیه وسلم کومه خبره یې په یاد وي؟ حذیفه وویل: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل، چې فرمایل یې:

«**فِتْنَةُ الرَّجُلِ فِي أَهْلِهِ وَمَالِهِ وَجَارِهِ تُكَفِّرُهَا الصَّلاَةُ وَالصِّيَامُ وَالصَّدَقَةُ.**» (سنن ابن ماجه)

*ژباړه: د سړي لپاره فتنه د هغه کورنی، مال او ګاونډی دي، چې لمونځ، روژه او صدقه یې له منځه وړي.*

دغه حدیث شـریف موږ د هغو لویو چارو په اړه خبروي، چې ښـایي د ځینو کسـانو لپاره مبهمې وي. هغه چارې دا دي چې انسان په فتنه کې لوېږي، امکان لري په ډېرو دلایلو سره خپله لاره ورکه کړي او ګنهکار شي؛ مګر الله سبحانه وتعالی د خپل پراخ رحمـت په سـبب د هغه چا پر وړاندې دروازه نه تړي، چې په فتنه او ګناه کې اخته وي، بلکې د هغه لپاره یوه بله دروازه پرانیزي، چې که چېرې د هغې له لارې دننه شي، له عذاب څخه ژغورل کېږي.

یو له هغو شیانو څخه چې د مسلمان د ګمراهۍ لامل کېږي، د هغه کورنۍ ده. ځینې وخت د کورنۍ غړي یوه کس ته وسوسه اچوي، چې باید ګناه ترسره کړي او یا له هغو حدودو څخه تېری وکړي، چې باید پښه ترې وانه‌ړوي.

بـل مورد چې د فتنې لامـل کېږي، هغـه مـال دی. مـال ډېری کسـان یـا د ناپوهۍ له مخې او یا هم له دې امله په فتنه کې اچولي، چې دوی په دې ډاډه نه دي چې الله تعالی ښښونکی او مهربانه دی او هر څه د هغه په اختیار کې دي.

ګاونډی هم هغه څوک دی، چې ستا په شـاوخوا او د ژوند په چاپېریال کې اوسـېږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په نورو ډېرو احادیثو کې د ګاونډي په اړه خبرې کړې دي، موږ ته یې د هغه په اړه توصـیه کړې او ګاونډي ته له ازار ورکولو څخه یې منعه کړي یو؛ ځکه د ګاونډي ځورول ګناه ده.

دغه حدیث شـریف هغو دریو چارو ته له اشـارې کولو وروسـته چې مسـلمانان په فتنه کې اچوي، د هغوی د جبران او د الله تعالی پر وړاندې د تېروتنو د ختمولو طریقې ته هم اشاره کړې ده.

پر همدې اسـاس لمونځ هغه عبادت دی چې د ګناهونو د جبران او له منځه تلو لامل کېږي. لکه څنګه چې انسـان د لمانځه په واسطه په نږدېوالي، بنده‌ګۍ او له هغو ګناهونو څخه په توبې کولو سره چې مرتکب شوی، د خپل رب لوري ته ور ګرځي.

همدارنګه د انسان ګناهونه په روژې سره هم له منځه ځي. روژه د جسم لپاره سخته ده او انسان د هغې په واسطه ځانته دا په یادوي، چې دغه جسم یو پیدا کوونکی لري چې د هغه له قهر سره د مقابلې توان نه لري او نه شي کولای چې د الله تعالی د عذاب پر وړاندې ودرېږي. پر همدې اسـاس روژه د نفس د کنټرول، الله تعالی ته یې د نږدېوالي او د خالق پر وړاندې د عجز یوه اغېزناکه تګلاره ده.

صـدقه ورکول هم د ګناهونو د کفارې یوه لاره ده، ځکه صـدقه ورکول ګناهونه سـوځوي. داسـې چې صـدقه ورکوونکی به الله تعالی ته د نږدېوالي او پر خپله توبه او عزم د ثابت پاتې کېدو لپاره هڅکله د الله تعالی نافرماني نه کوي، د فتنو دام ته به نه

ور دانګي، هغه شـیان به ښې چې ورته ګران او د ارزښـت وړ وي او د الله تعالی لپاره به له هغه شـي څخه تېرېږي، چې ډېر ورته ارزښتمن دي.

له الله تعالی څخه غواړو چې موږ له فتنو څخه وساتي، عملونه مو د ځان لپاره خالص کړي، له موږ سره په لمانځه او روژه کې مرسته وکړي او موږ ته د خپلو صدقو په بدل کې د قیامت د ورځې نعمتونه راکړي! اللهم آمین!

**لیکوال: دکتر ماهر صالح**

**ژباړن: صهیب منصور**